مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌نواز باقر

۲۰۲/۱۱/۲۹

# راپسي وو

## (غزل)

توره شپه وه اوازونه راپسي وو
په کوټه کې دېوالونه راپسي وو

ما خادر دومره په شړک راوچت کړی
چې تر کوره کاغـذونه راپسي وو

ټوله ورځ به ترې ترې ګرځېدمــه
او په خوب کې به سپېدونه راپسي وو

خدایه! ستا په لټون سر وم ناخبر وم
خپلې پښې او خپل لاسونه راپسي وو

په دې دښته کې یواځې زه روان وم
ولې ستا د ښپو خاپونه راپسي وو

د نظر شیشه مې ماته کړه باقـره!؟
چې کاږه واږه مخونه راپسي وو

شاه نواز باقر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ